The Lighthouse Journal of Literature & Linguistics, Vol. 2, Winter 2023, pp. 20-33

# د ډاکټرشېرزمان سیماب په افسانو کښې د ترقي پسندۍ عناصر

ډاکټراحسان الله یوسفزے1

## ABSTRACT

*The Progressive movement is a literary movement that emerged for the first time in the literature of the subcontinent in the 20th century. Not only did this movement influence the literature of the subcontinent, but it also influenced other literatures around the world. It entered Pashto literature from Urdu literature. The main objective of this movement is for literature to represent real life and address the issues of people's lives. Amil" is a fiction book written by Dr. Sher Zaman Seemab, a renowned fiction writer in Pashto. This research paper analyze the elements of progressivism in the aforementioned book.*

***Keywords:*** *Dr. Sheer Zaman Seemab, Amel, Progressivism*

ترقي پسندي نۀ یواځې یوه ادبي مفکوره ده بلکې یؤ ژوندے او فعال ادبي تحریک هم دے چې په ادبیاتو کښې ئې د ارزښت اواهمیت څنې هېڅ کله هم انکار نۀ شي کېدے. دا تحریک کله،څنګه او ولې شروع شو؟ دا داسې پوښتنې دي چې څو پورې ئې د حل کولو هڅې نۀ وې شوې. ترهغې مونږ د ترقي پسندتحریک د افکارو او نظریاتو نه په ښۀ شان سره نۀ شوخبرېدلے.

کله چې یؤ تحریک وجود بیا مومي. هغۀ که مذهبي تحریک وي که قامي یا ادبي. ددغه تحریک په شا د هغه دور سماجي، سیاسي او اقتصادي حالات ډېر لوے لاس لري او ددغو عواملو په نتیجه کښې تحریک وجود بیامومي.دغه وجه ده چې کله مونږ په ترقي پسند ادبي تحریک رڼا اچوو نو د هغه عواملو ذکر به ضرور کوو.کومو چې ددې تحریک په شا ډېر لوے لاس لرلے دے.هرکله چې په کال ۱۹۱۷ء کښې د روس په خاؤره یؤ زبردست انقلاب راغلوچې ددغه انقلاب په راتګ سره معاشي انصاف او مساوات قائمول ممکن شول.دغه انقلاب نۀ یواځې د روس د خاؤرې د پاره نېک مرغه وګرځېدۀ بلکې د نړۍ نور محکوم قامونه ئې هم راویښ کړل. په تېره تېره د ګړدې نړۍ د بې وزله او محکومې طبقې سترګې ئې وغړولې او په دغه طبقه کښې ئې د ازادۍ او حریت جذبه را وپاروله.دېخوا د هندوستان په خاؤره چې دغه وخت کوم سیاسي حالات جوړ شوي وو.د هندوستان ټوله خاؤره د پېرنګیانود قبضې د لاندې راغلې وه چې په نتیجه کښې ئې د هندوستان واړه قامونه محکوم شوي وو.دغه وخت که یؤ پله مختلفو سیاسي تحریکونو د هندوستان په خاؤره د پېرنګیانو په ضد خپلې مبارزې ته دوام ورکولو نو بل پله تخلیق کاره طبقه هم خاموشه نۀ وه او د هندوستان په خلقو کښې ئې د پېرنګي استعمار د تسلط

1. Visiting Lecturer, GPG Jehnazeb College Swat, **Corresponding Author's Email:** ihsanyousafzai2013@gmail.com

Manuscript Received: Nov 10, 2023
Manuscript Accepted: 26 Dec, 2023

نه د خلاصي دپاره شعور عام کولو.دغه دور په سياسي او معاشي لحاظ سره ډېر اهم دور وۀ نوځکه په دغه دور کښې د هندوستان په خاؤره بېلا بېل ادبي تحريکونه وزېږېدل.که يو طرف ته د هندوستان ځينو ليکونکيود فرانسيسي او روسي ادبياتو نه اردو ادب ته هغه افسانې و ژباړلې کومې چې د حقيقت نګارۍ د تحريک د اثر لاندې ليکلې شوې وي او دغسې په اردو ادب کښې د حقيقت نګارۍ تحريک ته لار هواره شوه نو بل خوا د حقيقت نګارۍ د تحريک سره څنګ په څنګ په اردو ادب کښې يؤ بل تحريک مخې ته راغلو چې دغه تحريک په اصل کښې ترقي پسند تحريک وۀ.چونکې دا تحريک د انجمن ترقي پسند مصنفين په شکل کښې اردو ادب ته رادننه شوے وۀ نو ځکه دلته به د انجمن ترقي پسند مصنفين په قيام او مقاصدو هم لنډه شان رڼا اچول ضروري وي-

د انجمن ترقي پسند مصنفين په حقله د ټولو نه وړاندې د هغه اجلاس ذکر پکار دےکوم چې په کال ۱۹۳۵ء کښې د لندن په يؤ هوټل ناکنګ ريستوران کښې شوے وۀ او د تنظيم وړومبی اعلان نامه په کښې تياره کړے شوې وه.ددغه اجلاس په راجوړولو کښې د ټولونه اهم کردار د سيد سجاد ظهير وۀ چې د ځينو نورو هم فکره ملګريو مرسته ورته حاصله وه. د انجمن ترقي پسند مصنفين د کال ۱۹۳۵ء ددغه وړومبي اجلاس په حقله ډاکټر انور سديد په خپل کتاب " اردو ادب کی تحریکیں " کښې داسې ليکي:

> " سجاد ظہیر کی زندگی میں 1935 ء کا سال بے حد اہمیت رکھتا ہے۔ اس سال انگریزی حکومت نے کمیونسٹ پارٹی آف انڈیا کی قانونی حیثیت کو تسلیم کر لیا اور گورنمنٹ آف انڈیا ایکٹ کی بنیاد پر ملکی وزارتیں قائم ہوئیں۔ لندن کی ناکنگ ریستوران میں ترقی پسند مصنفوں کے حلقے میں انجمن کا پہلا اعلان نامہ تیار ہوا جسے آخری شکل دینے میں ڈاکٹر ملک راج آنند ، ڈاکٹر جیوتی پرشاد، پرمودسین گپتا، ڈاکٹر تاثیر اور سجاد ظہیر نے حصہ لیا ۔ اسی سال جولائی میں پیرس میں اندرے مارلو ، رومین رولاں اور گورکی کی رہنمائی میں ایک بین الاقوامی کانفرنس ہوئی جس میں انفرادیت کو خیرآباد کہہ کر اجتماعی سطح پر کام کرنے کی تحریک کی گئی اور ادیب کے حق آزادی ،خیال ورائے کے تحفظ کے لیے پوری طاقت استعمال کرنے اور متحدہ محاذ کا جزو بن کر محنت کش طبقے کا تعاون حاصل کرنے کا عہد کیا گیا۔سجاد ظہیر اس کانفرنس کی کامیابی سے بے حد متاثر تھے۔ چناں چہ انھوں نے لندن کی ترقی پسند انجمن کو اس بین الاقوامی مرکز کے ساتھ ملحق کرنے کا فیصلہ کیا اور ارادہ کرلیا کہ ہندوستان میں یہ انجمن قائم ہو تو مرکزی انجمن کی ہدایات کے مطابق پیرونجات میں ہندوستانی ادب کی نمائندگی کرے۔ چناں چہ سجاد ظہیر نے ہندوستان میں ترقی پسند انجمن قائم کرنے کی کوشش شروع کردی اور ناکنگ ریستوران کے اعلان نامے کا مسودہ ہندوستان بھجوایا اور جب واپس وطن آئےتو ہندوستانی ادبا ہم خیال بنانے کے لیے ان سے نامہ وپیام کا سلسلہ جاری کردیا " ۱

ژباړه: د سجاد ظهير په ژوند کښې د ۱۹۳۵ء کال ډېر ارزښت لري.په دې کال حکومت د کميونسټ پارټۍ اف انډيا حېثيت ومنلو او د گورنمنټ اف انډيا په بنياد ملکي وزارتونه قائم شول.د لندن په ناکنگ ريستوران کښې ترقي پسندو ليکونکيو د انجمن وړومبنۍ اعلان نامه تياره کړه. چې دې ته په اخري شکل ورکولو کښې ډاکټر ملک راج انند،ډاکټر جيوتي پرشاد، پرمودسين گپتا،ډاکټر تاثير او سجاد ظهير برخه واخسته.په دغه کال جولا ئي کښې په پېرس کښې اندرے مارلو،رومين رولا او د گورکي په مشرۍ کښې يو نړيوال بېن الملّي کانفرنس وشو چې انفراديت ته په کښې په مخه ښهٔ ووئيلے شول او په ټولنيزه کچه د کار کولو تحريک شروع شو او د اديب د خپلواکۍ او د سوچ او فکر د تحفظ د پاره د پوره طاقت پکارولو او د متحده محاذ د جز جوړېدو او د خواري کښې طبقې د مرستې ترلاسه کولو لوظ وکړے شو. سجاد ظهير د دې کانفرنس د کاميابۍ نه ډېر متاثره وهٔ نو ځکه هغهٔ د لندن د ترقي پسند انجمن ددې بېن الملّي مرکز سره د تړون پرېکړه وکړه او اراده ئې وکړه چې د هند په خاؤره دې هم دا انجمن جوړ شي چې د مرکزي انجمن د هدايا‌تو په رڼا کښې د هندوستاني ادب نمائندگي وکړي دغه وجه وه چې سجاد ظهير په هندوستان کښې د ترقي پسند انجمن د جوړولو هڅه شروع کړه او د ناکنگ ريستوران د اعلان نامې مسوده ئې هندوستان ته را ولېږله او چې کله وطن ته بېرته راغلو نو د هندوستاني اديبانو د هم فکر جوړولو دپاره ئې د هغوي سره د خطونو او پېغامونو سلسله جاري کړه-

دغه اعلان نامه کومه چې سيد سجاد ظهير د خپلو هم فکره ملگريو سره په گډه په لندن کښې تياره کړې وه.د خپلو ځينو هم خياله ملگريو په لاس ئې د هندوستان شاعرانو او اديبانو ته را واستوله او چې کله د انگلستان نه بېرته وطن ته راغلو نو دلته په هندوستان کښې هغهٔ د ځان سره گڼ شمېر هم فکره اديبان ملگري کړل او په باقاعده ډول ئې د انجمن ترقي پسند مصنفين بنياد کېښوهٔ.په ۱۵اپريل کال ۱۹۳۶ءکښې ئې د انجمن د سېوري لاندې وړومبے کل هند کانفرنس په لکهنو کښې راجوړ کړو. د دغه کانفرنس اعلان نامه چې د دې تحريک اغراض او مقاصد تري په ښهٔ شان سره په ډاگه کېږي) فضل مير خټک په "فضليات" کښې داسې را نقل کړې ده:

" نن د هندوستان په سماج کښې بنيادي تبديلۍ رواني دي کېږي. رجعت پرست طاقتونه (اسلامي تحريکونه)د ژوند

په اخري سلګو کښې دي.تش په نوم روحانیت او بې بنیاده مقصود پرستي د ادب لازمي حصه ګرځېدلې ده.د هېئت پرستی منفي رجحان عام شوے دے. په داسې حالت کښې "انجمن"د هندوستان د ادیبانو،شاعرانو او دانشورو نه دا مطالبه کوي چې هغوي دې سائنسي عقلیت پسندی ته وده ورکړي.د رجعت پسندی او ماضي پرستی سره سره دې د فرقه پرستی،نسلي تعصب او د انساني استحصال مذمت وکړي"۲

دغه کانفرنس صدارت د هندی او اردو نامتو افسانه نګار منشي پریم چند وکړو.د وړومبي کل هند کانفرنس په اخره کښې چې منشي پریم چندکومه صدارتي خطبه وړاندې کړه.دغه خطبه هم د ترقي پسند تحریک په تاریخ کښې ډېر لوے اهمیت لري. ولې چې د منشي پریم چند ددې تاریخي خطبې لۀ لارې د انجمن د مقاصدو او افکارو نوره توضیح او تشریح وشوه. دغه وجه ده چې دغه تاریخ ساز خطبې ته وروستو د انجمن د میني فېسټو حېثیت هم ورکړے شو.ددغه تاریخ سازخطبې ترټولو اهم اقتباس ډاکټر سعید احمد دهلوي په خپل یؤ ریسرچ ارټیکل "ترقي پسندتحریک کاادبی وفکری اساس"کښې داسې رانقل کوي:

" جس ادب سے ہمارا ذوقِ صحیح بیدار نہ ہو ، روحانی اور ذہنی تسکین نہ ملے ہم میں قوت وحرارت نہ پیدا ہو، ہمارا جذبہَ حسن نہ جاگے ، جو ہم میں سچا ارادہ اور مشکلات پر فتح پانے کے لیے سچا استقلال نہ پیدا کرے وہ آج ہمارے لیے بے کار ہے۔ اس پر ادب کا اطلاق نہیں ہوسکتا ۔ ہماری کسوٹی پر وہ ادب کھرا اترے گا جس میں تفکر ہو ، آزادی کا جذبہ ہو، حسن کا جوہر ہو ، تعمیر کی روح ہو ، زندگی کی حقیقتوں کی روشنی ہو ، جو ہم میں حرکت ہنگامہ اور بے چینی پیدا کرے ۔ سلائے نہیں کیوں کہ اب اور زیادہ سونا موت کی علامت ہوگی "۳

ژباړه:د کوم ادب نه چې زمونږ ذوقِ صحیح بېدار نۀ شي،روحاني او ذهني تسکین ترې نۀ ترلاسه کېږي چې مونږ کښې قوت او حرارت پېدا نۀ کړي،زمونږ د ښکلا جذبه را ونۀ پاروي، مونږ کښې د رښتیني ارادې او په مشکلا تو د بریا ترلاسه کولو قوت پېدا نۀ کړي نو هغۀ زمونږ دپاره نن بې کاره دے. په دې د ادب اطلاق نۀ کېږي.زمونږ په معیار به هغه کره او پوره ادب خېژي چې په هغۀ کښې تفکر وي،د خپلواکۍ جذبه لري،د ښکلا جوهر په کښې وي،د تعمیر ساه په کښې پوکلې شوې وي،د ژوند د حقیقتونو رڼا په کښې وي چې هغۀ په مونږ کښې حرکت، هنګامه او ناقلارتیا پېدا کړي ولې چې اوس نور ودۀ کېدل به د مرګ علامت وي-

د منشي پریم چند ددغې تاریخ ساز خطبې د اؤرولو بنیادي مقصد دا وۀ چې په صحیح معنو کښې ادب هغه دے کوم کښې چې د ژوند د حقیقتونو او مسئلو ترجماني وشي.د ادب موضوعات د ژوند د موضوعاتو څخې بیلول نۀ دي پکار-

ددغه کل هندکانفرنس نه پس ته د انجمن ترقي پسند مصنفین د سېوري لاندې ګڼ شمېر نور کانفرنسونه هم وشول .د انجمن ترقي پسند مصنفین د قیام نه پس ته ترقي پسندو لیکونکیو په ادب کښې په شعوري ډول د ژوند مسئلو ته پام را وګرځوۀ او هر هغه ادب تخلیق کول یې شروع کړل کوم کښې چې به د ژوند د مسئلو ترجماني وه.د انجمن ترقي پسند مصنفین زیرِ اثر نۀ یواځې ترقي پسند تحریک په اردو ادب خپل ژور اثرات وغورځول بلکې د هندوستان د نورو ژبو ادبیات هم ددغه تحریک د اثر نه بچ پاتې نۀ شول او په تېره تېره پښتو ادب ته ددغه تحریک اثرات څۀ خو د پښتو ددغه دور د ترقي پسندو لیکونکیو د انجمن ترقي پسند مصنفین سره د نېغ په نېغه اړیکو په صورت کښې رادننه شول او څۀ په دغه دور کښې چې په پښتونخوا کښې کوم سیاسي حالات جوړ شوي وو. ټوله پښتونخوا د پېرنګي استعمار د قبضې د لاندې راغلې وه. په دغه دور کښې چې د خدائي خدمتګار تحریک د اثر لاندې کوم ادب تخلیق کېدۀ. په دغه ادب کښې هم په غېر شعوري ډول ترقي پسندو رجحاناتوته دوام ورکړے کېدۀ.

هسې خو د شلمې پېړۍ پښتو ادب که په غور مطالعه کړے شي نو په دې پېړۍ کښې به په پښتو ادب کښې ډېرکم داسې لیکونکي او تخلیق کار تېر شوي وي چې د هغوي په فنپارو کښې به د ترقي پسندۍ عناصرپه څۀ نه څۀ شکل کښې موجود نۀ وي.ولې په دې پېړۍ کښې چې په پښتو کښې کوم لیکونکي په صحیح معنو کښې د ترقي پسند سوچ او فکر لرونکي وو او په ادب کښې ئې د مقصدیت اواز په ښکاره توګه پورته کړے وۀ.د پښتو په دغو ترقي پسندو لیکونکیو کښې د صنوبر حسېن کاکاجي، ولي محمد طوفان،اجمل خټک ، سېف الرحمان سلیم،قلندر مومند او سلیم راز وغېره نومونه په خصوصیت سره د یادولو وړدي.

دلته به دا واضحه کول هم ضروري وي چې د ترقي پسندۍ هغه کوم بنیادي توکي (عناصر) دي چې ددغو عناصرو په پېژندنې سره مونږ په یوه فنپاره کښې د ترقي پسندۍ تجزیه کولے شو.

د ترقي پسندۍ په عناصرو کښې چې ترټولو بنیادي کوم توکے یا عنصر دے .هغه مارکسیزم یا اشتراکیت دے.دغه وجه ده چې ترقي پسند لیکونکي په ادب کښې په اشتراکیت زور راؤړي او همېشه د ټولنې د طبقاتي لاندي باندي په ضد قلم پورته کوي.

د دې تحریک په باني ارکانو کښې شمار منشي پرېم چند هم د ترقي پسندو لیکونکیو دپاره د اشتراکیت د فکر و فلسفې په خپلولو زور راؤړي .فضل میر خټک په فضلیات کښې د منشي پرېم چند په حواله داسې لیکي.

"د ترقي پسند اصطلاح چې چا ادب ته را دننه کړې ده.د هغوي د نمائنده کرشن چندرالفاظ دلته را نقل کوم حکه چې دا به ډېر وزنداره اوقابلِ یقین وي.هغۀ فرمائي چې هر ترقي پسند اشتراکي (کمیونسټ) دے او د هر ترقي پسند دا فرض دي چې هغۀ به په ډانګ پېئلي د اشتراکیت (کمیونزم) پرچار کوي".۴

د ترقي پسندی د دغه بنیادي توکي په حقله ډاکټرسعیداحمد دهلوي په خپل ریسرچ ارټیکل کښې داسې لیکي :

" ترقی پسند تحریک کی اولین بنیاد اشتراکیت تھی - یہی وجہ ہے کہ ترقی پسند ادیبوں نے اشتراکیت پر زیادہ زور دیا ہے - ترقی پسند تحریک نے سماج میں معاشی نابرابری کی نکتہ چینی کی ہے - ترقی پسند ادب انسان کی معاشی اور اقتصادی آزادی کو اہم مانتا ہے-" ۵

ژباړه:د ترقي پسند تحریک وړومبنے بنیاد اشتراکیت وۀ دغه وجه ده چې روښان فکره لیکونکیو په اشتراکیت ډېر زور راوړے دے.ترقي پسند تحریک د ټولنې په معاشي نابرابری نیوکې کړې دي.ترقي پسند ادب د بني ادم معاشي او اقتصادي خپلواکي اهمه ګڼي-

" د ترقي پسندی په عناصرو کښې چې بل کوم ښکاره عنصر دے،هغه اجتماعیت دے.ترقي پسند لیکونکي په خپلو تخلیقاتو کښې عام طور د ټولنیز ژوند کشالو ته توجه ورکوي نو ځکه د دوي کار د سماج او سماجي ژوند د مسئلو سره وي.په دې حقله ډاکټر سعید احمد دهلوي داسې لیکي:

" ترقی پسند تحریک کی دوسری بنیاد اجتماعیت پرتھی - ترقی پسند ادیب اپنی تخلیقات میں سماجی زندگی کے مسائل کو پیش کرتا ہے۔ اس کا سروکار عوام کی زندگی کے مسائل سے بہت زیادہ ہے-"٦

ژباړه: د ترقي پسند تحریک دوېم بنیاد په اجتماعیت ولاړ وۀ.روښان فکره لیکونکي په خپلو لیکونو کښې د ټولنیز ژوند ستونزې را مخې ته کوي.د دوي کار د اولس د مسئلو سره وي-

د ترقي پسندی چې بل کوم بنیادي توکے دے. هغه سیاست دے.د ترقي پسندو لیکونکیو دا خاصیت وي چې دوي په ادب کښې په سیاسي شعور زور راؤړي. دوي ادب د سیاست نه بېل څیز نۀ ګڼي بلکې د ادب او

سیاست خپلو کښې سره رشته ټینګوي.په دې حقله ډاکټر سعید احمد دهلوي بل ځاے داسې لیکي:

" ترقی پسند تحریک کی تیسری فکری بنیاد سیاست پر تھی ۔ ترقی پسند ادیبوں کا مطالبہ تھا کہ ایسا ادب تخلیق کیا جائے جس کا تعلق سیاست سے بہت گہرا ہو اور سیاسی مسائل کے ساتھ یہ تحریک سیاست کی پابند بھی تھی۔ سیاست کا پابند ہونے کا یہ مطلب نہیں ہے کہ ترقی پسند ادیب لازمی طور پر سیاسی کارکن بھی ہو ۔ اس سے یہ بات ضرور ثابت ہوتی ہے کہ ترقی پسند ادیب سیاست سے کنارہ کش نہ ہو ۔" ۷

ژباړه:د ترقي پسند تحریک درېمه فکري تیره سیاست وۀ.د روښان فکره لیکونکیو دا غوښتنه وه چې داسې ادب دې تخلیق شي چې د هغۀ د سیاست سره کلک تړون وي او د سیاسي مسئلو سره دا تحریک دې د سیاست پابند هم وي.د سیاست د پابند کېدلو مطلب دا نۀ دے چې روښان فکره لیکونکے دې په لا زمي توګه سیاسي کارکن هم وي.د دې نه دا خبره ضرور ثابتېږي چې روښان فکره لیکونکے دې د سیاست نه په ډډه نۀ وي.

د ترقي پسندۍ چې بل کوم اهم عنصر دے،هغه سائنسي عقلیت پسندي ده.ترقي پسند لیکونکي زاړۀ اقدار او روایات،مذهب، رسومات او عقائد د سائنسي عقلیت په بنیاد له مینځه وړل غواړي نو ځکه دوي په ادب کښې د سائنسي عقلیت قائله دي.په دې حقله ډاکټر سعید احمددهلوي په خپل ریسرچ ارټیکل کښې بل ځاے داسې لیکي:

" ترقی پسند تحریک کی چوتھی بنیاد سائنسی عقلیت پر تھی ۔ ترقی پسندوں کا خیال ہے کہ ساری دنیا میں ہونے والی شدید تبدیلیوں سے پرانی قدروں کی شکست و ریخت ہو ئی ۔ ترقی پسند تحریک مذہب ، رسوم ، عقائد کو سائنسی عقلیت سے ختم کرنا چاہتی ہے۔"۸

ژباړه:د ترقي پسند تحریک څلورم بنیاد په سائنسي عقلیت ولاړ وۀ.د روښان فکرو خیال دے چې په ټوله دنیا کښې کېدونکیو شدیدبدلونونو سره دې د زاړۀ اقدار نېست و نابود شي.ترقي پسند تحریک مذهب، رسومات او عقیدې دسائنسي عقلیت لۀ لارې ختمول غواړي.

پورته چې کوم عناصر ذکر شول دغه د ترقي پسندۍ تر ټولو ښکاره او اهم عناصر دي او هم ددغه عناصرو په پېژندنې سره مونږ په یوه فنپاره کښې د ترقي پسندۍ مختلف اړخونه رابرڅېره کولے شو. ډاکټر شېرزمان سیماب ځوک چې د ملاکنډ په مردم خېزه خاؤره کښې زېږېدلے دے.د پښتو په معاصر ادب کښې د یو ښۀ شاعر،افسانه نګار،محقق، نقاد او رپورتاژنګار په حېث خپله پېژندګلي لري. "امېل" د ډاکټر شېرزمان سیماب افسانوي ټولګه ده چې په کال ۲۰۱۷ءکښې د اعراف پرنټرز پېښور نه خوره شوې ده.ددې ریسرچ ارټیکل موضوع د موصوف په افسانوي ټولګه" امېل" کښې د ترقي پسندۍ د عناصرو پلټنه ده نو دلته به یواځې د ډاکټر شېر زمان سیماب په افسانوي ټولګه "امېل" کښې د ترقي پسندۍ دعناصرو تجزیه کولے شي.

لکه څنګه چې اګاهو ذکر وشو چې د ترقي پسندۍ تر ټولو بنیادي او ښکاره توکے اشتراکیت یا مارکسیزم دے.په دغه تناظرکښې چې

مونږ د ډاکټر شېرزمان سیماب د افسانوي ټولګې "امېل "جاج اخلو نو په امېل کښې ځینې داسې افسانې مونږ ته په لاس راځي چې د افسانه نګار د ترقي پسند او مارکسیسټ سوچ او فکر ترجماني کوي.په کتاب کښې چې د" یوټرن " د سرخط لاندې کومه افسانه شامله ده.دغه افسانه په اصل کښې د مارکسیزم د اثر لاندې لیکلې شوې ده.په دغه افسانه کښې چې افسانه نګار د جمیلې په صورت کښې کوم کردار پېش کړے دے.دغه په اصل کښې یو ائیډیل مارکسیسټ کردار دے.جمیله چې کله په یونیورسټۍ کښې سبق وائي نو د سبق په ورځو کښې دا د کارل مارکس د افکارو نه متاثره شي او د خپل سبقي او هم فکره ملګري ارشد سره په ګډه په یونیورسټۍ کښې د کارل مارکس د افکارو خورولو دپاره هلې ځلې شروع کړي.په یونیورسټۍ کښې سټډي سرکلې او علمي غونډې راجوړوي.ځکه په لږ وخت کښې ځان له ګڼ شمېر نور د فکر ملګري پېدا کړي چونکې ارشد ددې د فکر ملګرے وي نو ځکه د یونیورسټۍ د سبق په دوران کښې ددې دواړو وادۀ وشي.افسانه نګار ئې په افسانه کښې داسې ذکر کوي:

> **"ارشد او جمیله په ټوله یونیورسټۍ کښې دوه داسې انقلابیان وو چې د هر چا په نظر کښې** وو او هر چا پېژندل.هره غونډه هم په دوي دواړو ګرمه وه او داسې د دوي ډېره ناسته چې د دوي د ذهنونو د تړون نتیجه وه.اخر د زړونو په تړون تمامه شوه.دې دواړو انقلابیانو چې د سیاست مزل یؤ ځاے کوۀ. د ژوند مزل ته ئې هم یؤ ځاے غاړه وړکړه.ولې انقلابیانو وو. د بدلون په پره وو.د وادۀ تقریب ئې هم د پوهنتون په سبزه زار کښې وشو او انقلابیانو په کښې د انقلاب د ناوې نه وړاندې جمیله د ارشد ناوې کړه"۹

:

چې کله دا دواړه د یونیورسټۍ سبق پوره کړي او عملي ژوند ته راشي .په دغو ورځو کښې که یؤ خوا د وطن سیاسي صورت حال یکسر بدل شي نو بل طرفته د روس د انقلاب اثر هم ورو ورو په کمېدو شي.ارشد د وخت او حالا تو سره مصلحت وکړي او خپل فکر ته په مخه ښۀ ووایي.ولې بل طرف ته جمیله چې د سر وېښتۀ ئې سپین شي خو د کارل مارکس فلسفه کومه چې د یونیورسټۍ په ورځو کښې هغې قبوله کړې وي.هغه ورته اوس هم هغه شان احترام لري لکه څنګه چې یې ورته مخکښې لرلو.ځکه خو هغه د خپل فکر سودا ته په هېڅ حال نۀ تیارېږي.د جمیلې په خپلې سیاسي عقیدې تر اخره وخته د ودرېدو ذکر افسانه نګار داسې کوي:

> "د ارشد او جمیلې د عملي ژوند او عملي سیاست سفر داسې روان وۀ چې په نړیوال کچ د طاقت واګې د سپینې ماڼۍ په لاسو کښې راغلې او د انقلابیانو د سرد جنګ په اختتام ټولې جذبې یخې ککړې پرېوتې او سیاسي

قبله ئې ټوټې ټوټې شوه. دې بدلون د ډېرو انقلابيانو زړونه ونړول، ارشد هم د انقلاب د ډولۍ نه مايوسه شو. ولې جميله د انقلاب هغه چنغله ده چې لکه د کارل مارکس د ښځې ئې د ارشد سره نه بلکې د هغۀ د انقلابي نظرياتو سره وادۀ کړے دے. سر ئې سپين شو خو نن هم د خپل تصور په دنيا کښې د انقلاب د جنګ اوازونه اوري او د مايوسه شوي ارشد د ډېرو فتوو په وړاندې د خپلې لوپټې بېرغ په لاس اوس وائي.

که د زلميو نۀ پوره نۀ شوه
ګرانه وطنه جينکۍ به دې ګټينه"١٠

دې افسانه کښې افسانه نګار د ارشد او جميلې په يونيورسټۍ کښې د سياسي هلوځلو په صورت کښې تر څۀ حده د مارکسيزم د توضيح او تشريح کوشش هم کړے دے.

دې افسانه کښې افسانه نګار د ارشد او جميلې په يونيورسټۍ کښې د سياسي هلوځلو په صورت کښې تر څۀ حده د مارکسيزم د توضيح او تشريح کوشش هم کړے دے-
د طبقاتي لري بري په ضد اواز پورته کول او معاشي مساوات قائمول چې د مارکسيزم ترټولو ښکاره موضوع ده. په "امېل "کښې چې د "اينځر" د سرخط لاندې کومه افسانه چاپ ده. په دغه افسانه کښې د دوؤ متضادو کردارونو خان او دهقان په شکل کښې د پښتني ټولني د طبقاتي لاندې باندې په ښۀ شان سره انځور ګري شوې ده. يو طرف ته انځر چې د کلي د يو دهقان زوے دے. پلار ئې مړ وي. کونډه او بې وسه مور ئې د خانانو په کور کښې خدمتګاره ده او بل طرفته ګلرخ چې د خان اِکې يوه نيازبينه لور ده. هر څو که هغوي دواړه د يؤ بل سره مينه کوي او غواړي چې د هغوي د يؤ بل سره وادۀ وشي. ولې په پښتنه ټولنه کښې دا کله ممکنه ده چې د خان د لور دې د خپل دهقان د زوي سره وادۀ وشي. افسانه نګار په افسانه کښې د خپلې ټولني د دغه طبقاتي لري بري او نسلي امتيازاتو انځور ګري داسې کوي:

" د ګلرخ پلار په خپلو دهندو د خپل شرافت څادر اچولے وۀ. اينځر ئې خسنے هم نۀ ګڼو. نۀ ئې په دې خبره کښې د چا سره برخه واخسته او نۀ ئې اينځر ته څۀ ووې. په ګلرخ ئې دړيکې وکړې او د ماما زوي ته ئې وادۀ کړه. ګلرخ د پلار د بې ځايه پښتو د پاره خپل ارمانونه ووژل. اينځر که ډېر زور لګولے وۀ نو څۀ به ئې کړي وو. نۀ شي د خانانو د ملنګو سره کلي"١١

دا شان په امېل کښې چې د "کور" د سرخط لا ندې کومه افسانه شامله ده. دغه افسانه کښې هم زمونږ د ټولنې د طبقاتي لاندې باندې انځورګري شوې ده-

لکه څنګه چې وړاندې ذکر وشو چې د ترقي پسندی بل بنیادي عنصر اجتماعیت دے.ترقي پسند ادیبان په ادب کښې همېش اجتماعي او ټولنیزو مسئلو ته توجه ورکوي.د دوي کار د ټولنې او ټولنیزوکشالو سره وي.ځکه دوي خپل قلم همېش خپل قام او خپلې ټولنې ته د پېښو کشالو را په ډاګه کولو له پاره پورته کوي.د ډاکټر شېرزمان سیماب د افسانوي ټولګي "امېل" که په غور مطالعه وکړې شي نو په امېل کښې ګڼ شمېر داسې افسانې موجودې دي چې په اصل کښې د پښتنې ټولنې هندارې دي . افسانه نګار نهٔ یوائې په خپلو افسانو کښې د خپلې ټولنې خرابی او کمزوری په ګوته کړې دي بلکې پښتانهٔ چې من حېث القوم دا وخت د کومو ستونزو سره مخ دي د هغو په کښې هم نشان دهي شوې ده.په امېل کښې چې د "امتحان" د سرخط لاندې کومه افسانه درج ده.په دغه افسانه کښې پښتنو ته چې د بدامنی په شکل کښې کومه ستونزه راپېښه ده.دغه ستونزه په کښې په ګوته کړې شوې ده.دغه رنګ په "امېل" کښې چې د "انتقام" د سرخط لاندې کومه افسانه درج ده. دغه افسانه کښې زمونږ د ټولنې د خوانینو د زور زیاتي او منفي رویو نه پرده اوچته کړې شوې ده."پاستر جیسوټے" افسانه چې په اصل کښې د پښتنې ټولنې د عامو وګړیو د بې وسی، غربت او بدې ورځې هنداره ده. د "اینځر" او "کور" د سرخط لاندې چې په "امېل" کښې کومې افسانې شاملې دي.په دغو افسانوکښې د پښتنې ټولنې د طبقاتي لري بري او نسلي امتیازاتو په ښهٔ شان سره انځورګري شوې ده.دغه رنګ "سند" افسانه چې زمونږ د وطن د ادارو د میرټ د پامالی په ضد په کښې اواز پورته کړے شوے دے.یوطرف ته نصرت چې د ایم اے، ایم فل او پي ایچ ډي کولوباوجود ورته په خپل ډیپارټمنټ کښې نوکري نهٔ مېلاوېږي او بل طرف ته نګهت چې د هغې نه ډېره جونیئر ده او تازه تازه ایم اے ئې کړې ده.ولې د ډیپارټمنټ د چیئرمېن په رحم وکرم سره هغه په پوسټ ګمارلې کېږي او نصرت د دومره ډګریو باوجود د پوسټ نه محرومه پاتې کېږي.زمونږ د وطن د ادارو هم دغه لویه المیه ده چې په سفارشونوپه کښې نااهله خلق په نوکریو اخستلے کېږي او کوم چې د اهلیت خاوندان وي.هغوي د خپل حق نه بې برخې پاتې کېږي-

افسانه نګار په مذکوره افسانه کښې د خپل وطن د ادارو د میرټ د پائماله کېدو دغه المیه داسې انځوروي

> " دې ته اوس سړے قسمت ووائي؟ د خدائے فېصله ورته ووائي؟..... نصرت د ایم اے، ایم فل او پي ایچ ډي کولو باوجود د لېکچرر په پوسټ پسې خپلې تورې کمځی

> سپينې کړې د خپل ټول ټبر ستغې سپورې ئې واؤرېدې.خپله ځواني ئې د علم د شمعې نه ځار کړه.کو د عالمانو په نظر کښې را نۀ غله.ولې بل طرف ته د نګهت د ايم اے د نتيجې وتلو سره په ډيپارټمنټ کښې تعيناتي د کوم قسم کرامات دي. که د ډيپارټمنټ د چيئرمېن صوابديدي اختيارات"۱۲

د ترقي پسندۍ چې بل کوم اهم توکے دے،هغه سياست دے.ترقي پسند ليکونکي ادب او سياست لازم وملزوم ګڼي.د دوي په خيال چې کله د ادب د سياست سره رشته جوخته پاتې نۀ شي نو هغه ادب بيا ادب نۀ پاتې کېږي.ځکه خو دوي هغه ادب تخليق کوي کوم کښې چې سياسي شعور موجود وي-

په دغه تناظر کښې چې مونږ د ډاکټر شېرزمان سيماب د افسانوي ټولګې "امېل" جاج اخلو نو په "امېل" کښې متعدد داسې افسانې موجودې دي چې د افسانه نګار د سياسي شعور او بصيرت ترې په اسانه اندازه کېږي.په "امېل" کښې چې "په سبب د ظالمانو حاکمانو" د عنوان لاندې کومه افسانه درج ده.دغه افسانه په اصل کښې د افسانه نګار د سياسي شعور او بصيرت دلا لت کوي.د افسانه نګار د قام بچي چې د غربت او بې وسۍ لۀ کبله د هاړ په سخته ګرمۍ کښې د پېښور د سړکونوپه اشارو ولاړ دي او د سرمايه دارو د ګاډيو نه دوړې ټک وهي نو دا ځکه چې د هغۀ  د وطن جاګيرداره او واکداره طبقه همېش د پاره د پرېوتې او کمزورې طبقې استحصال کوي.دغه وجه ده چې دغه کمزورې طبقه د علم او هنر نه لرې ساتې او چرې ئې هم په خپلو پښو ودرېدو ته نۀ پرېږدي-

افسانه نګار په افسانه کښې دغه دړدوونکے منظر داسې وړاندې کوي:

> "خان جي خان جي! ما چې د مزدې نه په شيشه کښې بهر وکتل نو يؤ دوو ماشومانو د کرولې په بانټ چيرړې وهلې او د موټر والا نه ئې پېسې غوښتې خو د موټر خان جي صاحب د موټر د تورو شيشو نه بهر چرته کتل ځکه چې هغۀ په ائيرکنډېشن کښې ناست وۀ.که بهر ئې کتل نو نظر ئې دغه ګرمي نۀ شوه برداشت کولے او هو که برداشت کولے ئې شوه نو دغه ماشومان چې پښې ابله پښې سر تور سر د جون په مياشت کښې د پېښور په ګرمۍ کښې په تود سړک ولاړ وو. هغوي ته دا ګرمي هېڅ هم نۀ وه ځکه چې که يؤ خوا هغوي نهر وو. د خېټې غم د دې ګرمۍ نه بې نيازه کړي وو نو بل خوا د افغانستان د جهنمي ماحول نه هم راغلي وو. چرته چې د لرګو په ځاے د اوسپنو انګارونه دي.چرته چې شپه ورځ بارود ورېږي"۱۳

د ترقي پسندۍ چې بل کوم بنيادي توکے يا عنصردے.هغه سائنسي عقليت پسندي ده.ترقي پسند اديبان په ادب کښې همېشه د ټولنيزو

غلطو رواياتواو رسوماتو،مذهبي انتهاپسندی او توهماتوپه ضد قلم پورته کوي او دغه معاشرتي غلط رسومات،توهمات،منفي مذهبي رويې د سائنسي عقليت په بنياد له مينځه وړل غواړي او د يوې سوکاله او روښانه ټولنې تصور وړاندې کوي-

په "امېل" کښې چې د "ازانګې" د سرخط لاندې کومه افسانه درج ده.په دغه افسانه کښې افسانه نګار د پښتنو په يو غلط رسم ټکونه کړي دي کوم چې د "نيوکې" په شکل کښې په پښتنه ټولنه کښې موجود دے.د پښتنو په زيات تر سيمو کښې د بچيو د موراو پلار په خوښه رشتې کېږي چې په اصل کښې د بچيو خوښه ناخوښه په کښې شامله نۀ وي.ددغو رشتو نتيجې کله کله ښې هم ثابتې شي. ولې کله کله ئې نتيجې ښې نۀ وي. ولې چې په اصل کښې د بچيو مرضي په کښې شامله نۀ وي .دلبر خان چې په پينځم کال ورله الله لور ورکړې وي.د هغۀ لور چې څنګه هغۀ ووينې نو د ډېرې خوشحالی نه په جامو کښې نۀ ځائېږي.زر زر ئې په غېږ کښې واخلي.د هغۀ مور شمشو ترور د هغۀ د ماشومې لور کومې چې ايله اوس سترګې غړولې دي.د خپل نمسي د دلبرخان د ورور لاجبرخان د زوي سره د رشتې فېصله وکړي.ولې بل طرف ته دلبرخان چې يو تعليم يافته او لوستے زلمے دے. د خپلې مورپه دغه پرېکړې ناخوښي ښکاره کړي. ولې چې د هغۀ لور خو اوس پېدا شوې ده .لا هغۀ په غور ليدلې هم نۀ ده.د دلبرخان مور په دې خبره د خپل زوي سره خفګان ښکاره کړي.هغۀ لا د خپلې مور د قائله کولو هڅه کوي چې په دې کښې د دلبرخان ماشومه لور د هغۀ په غېږ کښې ساه ورکړي.افسانه نګار په افسانه کښې دغه دړدوونکے منظر داسې وړاندې کوي-

> "دلبرخان له خداے په پينځم کال نن لور ورکړې وه.هغۀ په جامو کښې نۀ ځائېدۀ.د مور د غېږې نه ئې ماشومه واخستله.والله مورې دا خو ډېره ښائسته ده.ماشومه ئې ښکل کړه او بيا ئې په سينه کښې د پلار زړۀ ودرزېدۀ.دلبرخانه بچيه دابه که خېر وي.د لاجبر خان د زوي وي.که سبا نۀ يم ستاسو د وررولی مزے به نۀ شلېږي. پلار دې خداے وبخښه هغۀ به هم دا وئيل "دلبرخان ماشومه د سينې نه بيرته کړله او غرېو نيولې يې مورته وکتل.مورې خداے ايله راکړه او تۀ يې رانه بيا اخلې.نه بچيه نه.شمشو ترور سينې له درز ورکړو.زۀ خو ستاسو د وروروليی د مزي د ترلو خبره کوم او د پلار "وئيې" به دې هم پوره شي چې تاسو واړۀ وئ او د انغري په غاړه به مو لوبې کولې نو پلار به دې داخبره کوله او بچيه دا خو د پښتو ملک دے،مورې زما سره چې د لاجبر لالا د وروروليی او ستا سره د زوي والی کوم مزے د لاجبر لالا ښځې شلولے دے.هغه به زما ماشومه لور څنګه وتړي."۱۴

د ترقي پسندۍ چې بل کوم اهم توکے دے،هغه سياست دے.ترقي پسند ليکونکي ادب او سياست لازم وملزوم گڼي.د دوي په خيال چې کله د ادب د سياست سره رشته جوخته پاتې نۀ شي نو هغه ادب بيا ادب نۀ پاتې کېږي.ځکه خو دوي هغه ادب تخليق کوي کوم کښې چې سياسي شعور موجود وي- د افسانې کلا ئميکس داسې راغونډېږي:

"هر څۀ چې دي خو زۀ په سپين سر د پلار نيکۀ پښتو نۀ شم پرېښودے.شمشو ترور په قهر ووئيل او ددې سره د دلبرخان په غېږ کښې ماشومې د تيرې او رڼا د جنگ د اختتام نه وړاندې يوه سلگۍ ووهله لکه چې ددغه جنگ توان يې نۀ لرلو"۱۵

دغه رنگ په امېل کښې چې د "جرگې" دسرخط لاندې کومه افسانه شامله ده.په دغه افسانه کښې د پښتنو د جرگو د يو منفي اړخ نه پرده اوچته کړے شوې ده.عام طور خو جرگه د پښتنې ټولنې يؤ مثبت قدر گڼلے شي.ولې چې د پښتنو په خپل منځي کښې چې کله څۀ مسئلې پېدا شي نو پښتانۀ ئې د جرگو او ننواتو په صورت کښې د هوارولو هڅې کوي نو ځکه پښتانۀ جرگې ته د قدر په نظر گوري.د جرگې مشران چې په عامه توگه د ثالثۍ کردار ترسره کوي .دغه وجه ده چې پښتانۀ د دوي فېصلو ته احترام لري خو څنگه چې د پښتنو جرگې مثبت اړخونه لري.داسې څۀ اړخونه منفي هم لري.ولې چې کله کله په دغو جرگو کښې د جرگې مشران د زوړَور او بااثره فريق ملگرتيا وکړي او د حق گويې مظاهره ونۀ کړي. دغه وجه ده چې د جرگې د مشرانو په موجودگۍ کښې اکرام خان خپل ترۀ فېروز خان او د هغۀ شپږ کلن زوے عمران خان ووژني خو د جرگې مشران پرې چشم پوشي اختيار کړي.افسانه نگار په افسانه کښې دغه المناک منظر داسې وړاندې کوي:

"فېروز خان د خپل کلي ښۀ مخوريز او سپين روبے مشر وۀ.د جرگو سړے وۀ.د حجرې جمات د غم ښادۍ او راشه درشه ښۀ ښکاره سړے وۀ.درې لونه او يؤ ماشوم زوے ئې ټوله دنيا وه او په دغه دنيا کښې ئې د خپلې خانۍ شمله هسکه گرځوله.يوه ورځ يې د کلي په جرگه کښې د خپل اِکي يؤ وراړۀ اکرام خان سره خبرې ورانې شوې چې اکرام خان ايله ونۀ کړه او د خپلې طماچې د خولې اور ئې د فېروز خان د وجود سره د هغۀ په غېږ کښې د ماشوم زوي عمران په ماشومتوب هم ولگوۀ.ټولې جرگې په خپلو سترگو د جرگې دغه مير مېړۀ په وينو کښې لت پت وليدۀ.اکرام خان وختي طور ځان ډډې ته کړو،خو د هغۀ گرېوان ته به چا لاس اچوۀ-۱۶

اگاهو چې د ترقي پسندۍ کوم توکي (عناصر) ذکر شو.دغه ټول عناصر د ډاکټر شېر زمان سيماب په افسانوي ټولگه "امېل" کښې جوت ليدلے شي چې دې ريسرچ ارټيکل کښې ئې تجزيه وکړې شوه.

# حوالې

1-انور سدید،ڈاکٹر،اردو ادب کی تحریکیں (اشاعت نہم)انجمن ترقئ اردوپاکستان،کراچی،2015ء،ص 439 تا 440

2.فضل میر خټک،فضلیات،حیات بک ډپو،کرک،۱۹۹۹ء ،مخ۱۱۴ تا ۱۱۵

3 . http://.urdulinks.com. Accessed on 10.5.2021, Time 6:00pm

4. فضل میر خټک،فضلیات،مخ ۱۱۳

5. http://.urdulinks.com. Accessed on 12.05.2021.Time 3:00 pm. .

6. As Above

7. As Above, Accessed on 14.05.2021.Time 08:00pm. .

8. As Above, Accessed on 15, 05.2021.time 10; 00pm

9. شېر زمان سیماب، امېل، اعراف پرنټرز،محله جنګی پېښور،۲۰۱۷ء ،مخ ۲۷تا۲۸

10.هم دغه ا ثر،مخ۲۸

11. هم دغه اثر،مخ۵۲

12. هم دغه اثر،مخ۱۱۴

13.هم دغه اثر،مخ۷۲تا۷۳

14. هم دغه اثر، مخ ۶۰تا۶۱

15.هم دغه اثر،مخ ۶۲

16.هم دغه اثر،مخ ۱۰۳